مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۴/۰۲

# ستر ارمانونه

مونږ درنـــو درنـــو، بارونو ته پـــیدا یو
مونږه ســـترو آرمـــانونو ته پـــــيدا یو

چې رڼا د مـــعرفت هر خوا خوره کړي
مونږه داســـي لوی کارونو ته پـــــيدا یو

چې ورمیږ د غلیم مات په یوه سوک کړي
داسي کلکو، ګـــــذارونو ته پـــــــيدا یو

چې په خو ټکو، بیدار کړي ضـــــمیرونه
مونږه داسي شـــعارونو ته پـــــــيدا یو

چې اسـرار د دي چمن ساتي په زړه کي
مونږه داسي پټ رازونـــو، ته پـــيدا یو

چې د درد څريکه ،د زړه په غوږو اوري
مونږه داســـــي فریادونــــو ته پـــيدا یو

چې د میني محـــبت ورکـــــوي زیری
مونږه داسي، پـــــیغامونو ته پـــــيدا یو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ